مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عزت‌الله ادیب

۲۰۲۳/۱۲/۰۶

د تحقیق په مختلط میتود کې د نمونه‌اخیستنې لارې چارې

د تحقیق د ډیزاین په برخه کې نمونه‌اخیستنه یو ډیر مهم او حیاتي بحث دی. نمونه باید په ډیر احتیاط او داسې انتخاب شي، چې د تحقیق له هدف، منابعو او د موضوع له عمق سره مطابقت ولري. د نمونه‌اخیستنې بحث - لکه د کمي یا کیفي تحقیق په څیر - په مختلط میتود کې هم هومره اهمیت لري؛ خو په دې ډول تحقیق کې د دې پروسې پېچلتیا تر نورو (یوازې کمي یا کیفي) میتودونو زیاته وي. مختلط میتود د یوې پیاوړې او انعطاف منونکې تګلارې په توګه د کیفي او کمي میتودونو تر منځ خلا یا تشه ډکوي، او د څېړنیزې موضوع په اړه د هر اړخیز پوهاوي په رامنځته کولو کې مرسته کوي. د هر اړخیز پوهاوي څخه هدف دا دی، چې د یو متغیر اندازه او تفصیل دواړه هممهاله څرګندوي.
د تحقیق د مختلط میتود د ډیزاین په مرحله کې هره پروسه پېچلې او ستونزمنه وي، خو د نمونه اخیستنې پروسه یې خورا ستراتیژیکه او د اهمیت وړ ده؛ ځکه د دې پروسې پر مټ د راټولو شویو مالوماتو د بډایني او هراړخیزوالي په مقصد د تحقیق نمونه ټاکل کیږي. په دې لیکنه کې به د د تحقیق په مختلط میتود کې د نمونه اخیستنې د پېچلتیاوو، ستراتیژیو او اهمیت په اړه ولولو. بل دا چې د نمونه اخیستنې دا مهمه پروسه څنګه د څېړنې د اعتبار او پیاوړتیا سره مرسته کوي؛ ځکه د نمونې انتخاب د څېړنې د موندنو له ګڼلیت او او بډایني سره نیغه اړیکه لري.

د نمونې اهمیت

اکثرڅېړونکي په دې باور دي چې د څېړنې د ډیزاین هره برخه یو تخنیکي کار دی؛ خو په دې پروسه کې نمونه اخیستل یوازې یو تخنیکي قدم نه؛ بلکه یو مهم عنصر دی، چې د څېړنې اساس جوړوي. یانې د څېړنې له مهمو اساساتو څخه شمیرل کیږي، او یوه ډیره پېچلې او ستراتیژیکه پروسه ده چې باید ډیر پام ورته وشي. په دې ډول څېړنو کې د دې پروسې د پېچلتیا یو لوی لامل د کمي او کیفي تګلارو ادغام دی، چې په ترکیبي او زنځیره‌ایز ډول د یو مشخص هدف لپاره کارول کیږي. هدف دا دی، چې آیا غوره شوې نمونه د څېړنې د موضوع او پوښتنې له تنوع او ماهیئت سره اړخ لګوي، که نه؟ په مختلط میتود تحقیق کې یوې داسې ستراتیژي ته اړتیا ده، چې د کمي یا کیفي تحقیق د انفرادي تګلارو له محدودیتونو څخه بهر وي او د څېړنې د پیاوړتیا او لوړ اعتبار باعث شي.

د تحقیق د تصنیف یا نوعیت پېژندنې (ټایپولوجي) له نظره، په مختلط میتود تحقیق کې د کمي او کیفي تګلارو ادغام، اړیکه او اولویت د نمونه‌اخیستنې د ډول یا میتود له انتخاب سره نیغه اړیکه لري. په مختلط تحقیق کې د موضوع او هدف له بُعده کمي او کیفي برخې اولویت بندي او د هر میتود لپاره هدف ټاکل کیږي، چې دا ټوله پروسه د ترکیبي نمونه‌اخیستنې د ډول په ټاکلو کې مرسته کوي.

د نمونې ډولونه

هدفمنده/هدفي نمونه اخیستنه

هدفي نمونه اخیستل له کیفي تحقیق سره ژوره اړیکه لري. په دې ډول نمونه کې عمداً هغه ګډون کونکي غوره کیږي چې د څېړنې د موضوع او سوال په اړه زیاته پوهه او تجربه، یا ځانګړې اړیکه ولري. له ځانګړې اړیکې مطلب دا دی چې هغه تجربه له بل چا سره نه وي، او یا دا، چې داسې کسان خورا په مشکل موندل کیږي. له دې افرادو څخه د ډېرو خاصو مالوماتو او تجربو په اړه دقیق مالومات را ټولول له څېړونکو سره مرسته کوي، چې د یوې ارزښتمندې موضوع په اړه تحقیق تر سره کړي. په حقیقت کې دا پروسه له ستونزو او کړاونو څخه ډکه وي؛

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو دا ډول نمونه او انتخاب شويو کسانو ته لاسرسی په خپل ذات کې يوه کاميابي ده؛ ځکه هر څوک داسې منابعو ته لاسرسی نلري. دا ميتود له مختلط ميتود تحقيق سره ځکه ښه اړخ لګوي، چې دواړو کې د موضوع عمق ته رسيدل او د موضوع اړوند هر اړخيز پوهاوی رامنځته کول اصلي او کلي هدف دی.

احتمالي نمونه اخيستنه

موږ او تاسو د تحقيق په کتابونو کې لوستلي دي چې احتمالي نمونه اخيستنه په کمي څېړنو کې کارول کيږي، او د کمي څېړنو دا اساسي عنصر د نفوس هر فرد ته په څېړنه کې د انتخابيدو يا شامليدو مساوي چانس برابروي. يانې د دې ميتود پر مټ د نفوس ټول اعضأ په څېړنه کې د شامليدو مساوي چانس تر لاسه کوي. احتمالي نمونه اخيستنه- لکه طبقه‌ای نمونه- د کمی تحقيق د موندنو بيروني اعتبار او باور زياتوي. ځيني خلک شايد اعتراض وکړي چې دا ډول نمونه‌اخيستنه د کيفي څېړنو له تګلارو سره مخالفت لري؛ خو داسې نده؛ ځکه په مختلط ميتود تحقيق کې د دې ډول ميتودونو ادغام د څېړني د موندنو له تعميم سره زياته مرسته کوي.

په دې ځای کې دوه موضوعات خورا مهم دي چې بايد پام ورته وشي. اول هره څېړنه يا څېړنيز راپور له داخلي او بيروني بعده ارزول کيږي. په داخلي بعد کې دا ارزول کيږي چې آيا د څېړني ډيزاين، تطبيق او تحليل بغير له کوم پلويتوب د تحقيق پوښتنه سمه ځوابوي، او که نه؟ او بيروني بعد کې دا کتل کيږي چې آيا د څېړني موندنې په نورو شرايطو کې د تعميم وړتيا لري، او که يې نلري. او دوهمه موضوع دا ده چې، په مختلط ميتود کې د کمي او کيفي تګلارو يا ميتودونو ادغام د دواړو پروسو قوي نقاط داسې سره يو ځای کوي چې هر ميتود خپل اصلي ماهئيت له لاسه ورنکړي، لکه په پورته پراګراف کې مو چې په مختلط ميتود تحقيق کې د احتمالي نمونه اخيستنې يادونه وکړه.

متسلسله يا متوالی نمونه اخيستنه

په دې ډول نمونه اخيستنه کې ګډون کونکي په څو پړاوونو کې په داسې ډول غوره کيږي، چې په يوه پړاو يا مرحله کې تر لاسه شوي مالومات د بل پړاو يا مرحلې سره مرسته کوي، يانې د لومړۍ مرحلې څخه د تر لاسه شويو مالوماتو څخه په ګټه اخيستنې د دوهمې مرحلې په اړه تصميم نيول کيږي. په دې تکراري پروسه کې د لومړنيو مالوماتو او موندنو پر اساس د تحقيق پوښتنې اصلاح او سميږي. د مثال په ډول، په لومړۍ مرحله کې راټول شوي کيفي مالومات کيدای شي د کمي تحقيق لپاره د يو مشخص ګروپ په ټاکلو او په نښه کولو کې مرسته وکړي. په دې ډول نمونه اخيستنه کې د څېړنې ډيزاين د تغير په حال کې وي، او دا ډول نمونه اخيستنه له څېړونکي سره مرسته کوي چې د هر اړخيز پوهاوي او مالوماتو د تر لاسه کولو په خاطر د تحقيق يو سم او کُلي ډيزاين ولري. دا ډول نمونه اخيستنه هم – لکه د تحقيق ډيزاين – تر هغه وخته د تغير په حالت کې وي، تر څو چې څېړونکی خپل اصلي هدف ته رسيدلی نه وي.

په دې ډول ډيزاين کې يو ميتود د بل هغه د متمم په ډول کار کوي، او د ميتودونو د اولويت په اړه هم پکې تصميم نيول شوی وي. په دې ډول څېړنو کې کله کيفي د کمي متمم وي او کله کمي د کيفي تحقيق د متمم په ډول کارول کيږي.

متزامنه (همزمانه) / هممهاله نمونه اخيستنه

دا ډول نمونه هغه مهال کارول کيږي، کله چې کمي او کيفي ډاټا هممهاله را ټوليږي، يانې دواړه ميتودونه په همزمان ډول عملي کيږي. په دې ډول ميتود کې له مختلفو سرچينو څخه را ټول شوي مالومات مدغم يا يو ځای کيږي او په دې توګه د موندنو د تثليث له پروسې سره مرسته کوي. په هممهاله يا متزامنه توګه د مالوماتو را ټولول په ژوره او هر اړخيزه توګه د موضوع له څېړنې سره مرسته کوي او په دې توګه د کمي او کيفي ميتودونو ځواک يو بل بشپړوي او د متمم په توګه کارول کيږي. په يوه څېړنه کې د مختلفو منابعو ادغام د تثليث او بيا په ټوله کې د هراړخيز پوهاوي په رامنځته کولو کې ډيره مرسته کوي.

په مختلط ميتود تحقيق کې د نمونه‌اخيستنې غوره ستراتيژي

په دې برخه کې د نمونه اخيستنې لپاره ځيني ستراتيژيو ته اشاره کوو چې په عام ډول په مختلط ميتود تحقيق کې، او په خاص ډول، د نمونه اخيستنې په برخه کې بايد ښه پاملرنه ورته وشي.

د کمي او کيفي نمونو ادغام

په مختلط ميتود څېړنه کې د کمي او کيفي نمونه اخيستلو د ستراتيژيو يو ځای او همغږي کول يوه لويه ستونزه ده. څېړونکی بايد د دې ستراتيژيو او نمونو يو ځای کېدو ته ډير پام وکړي، تر څو د دې دواړو تګلارو په کارولو سره

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د څېړنیزې موضوع اړوند داسې مالومات تر لاسه شي، چې د یوې واحدې تګلارې یا میتود په کارولو سره یې تر لاسه کول ممکن نه وي. که چېرته یوازې د یوې فردي تګلارې په کارولو سره نوموړی هدف تر لاسه کیدای شي؛ نو په دې صورت کې مختلط میتود کارول بې فایدې کار دی. د یوې موضوع لپاره د مختلفو میتودونو او ستراتیژیو همغږي کول ډېر جدي او مسلکي پلان جوړولو ته ضرورت لري؛ تر څو د مختلفو میتودنو تر منځ مطابقت رامنځته شي.

د ډاټا تثلیث یا مثلث سازي

د مختلط میتود تحقیق د قوت ټکی د ډاټا یا مالوماتو په تثلیث کولو کې دی، چې د یوې تګلارې موندنې د بلې هغې پر مټ تایدیږي او هر میتود د بل د متمم په ډول کارول کیږي. په دې ډول څېړنه کې د تثلیث هدف ته د رسیدو لپاره څېړونکی باید ګډون کونکي او هغه قضیې چې تر منځ یې د پرتله کولو امکان لوړ وي، په ډېر دقت او ستراتیژیک ډول انتخاب کړي. که چېرته دې برخې ته لږ پاملرنه وشي او یا په مسلکي ډول انتخاب نشي، په دې صورت کې یا هر اړخیز پوهاوی نه رامنځته کیږي او یا هم د قضایاو تر منځ د پرتله کولو امکان ډېر ټیټ وي، چې په دې صورت کې تحقیق خپل اصلیت له لاسه ورکوي.
که په مختلط میتود تحقیق کې مختلف میتودونه په سم ډول ادغام نشي او په همغږي ډول عمل ونه کړي؛ په دې صورت کې کمي تګلاره جدا او کیفي هغه جدا لار خپلوي چې مختلط تحقیق په څو میتودیزه کړنلاره بدلیږي او تحقیق خپل اصلیت له لاسه ورکوي.

د بشپړ استازیتوب تضمین

د څېړنې هراړخیزتوب یا کُلیت یو له مهمو اصلونو څخه دی. د دې اصل د ساتلو لپاره، څېړونکی باید ځان مطمین کړي چې له عمومي جمعیت یا نفوس څخه تر لاسه شوې نمونه متنوع او د نفوس استازیتوب کوي. په دې برخه کې باید ډیموګرافیکو فکتورونو، د موضوع اړوند متغیرونو او هغه لیدلوریو ته ښه پاملرنه وشي چې کم بیان شوي وي. د نمونې هراړخیزوالی یا د څېړنې کافي استازیتوب د څېړنې بیروني اعتبار لوړوي او په هر ډول شرایطو کې یې د تعمیم زمینه مساعدوي.

د ټولنیز تحقیق په برخه کې یو اصل ډېر مهم دی، هغه دا چې، هیڅ ډول نظر یا لیدلوری سم او نا سم نه دی. دا په دې مانا چې څېړونکی قضاوت نشي کولی؛ بلکه له تحلیل څخه وروسته ډاټا او موندنې دا ثابتوي چې کوم څه سم او کوم لږ سم دي. که چېرته تاسو د یو څېړونکي په توګه له داسې نظریاتو یا لیدلوریو سره مخامخ شوئ چې په څېړنه کې مو یو څو شمیر قضیې وي، نو هغه ته ښه پاملرنه وکړئ؛ ځکه همدا هغه کم بیان شوي لیدلوري دي چې ډېر څه لرلای شي. د دې موثرو ستراتیژیو په ډله کې نور ډېر مسایل شامل دي او له دې ورهاخوا نورې ستراتیژی هم موجودې دي. یو له دغو ستراتیژیو څخه اخلاقیات دي، چې باید پام ورته وشي. څېړونکی که له یو لوري د هراړخیزې ډاټا د را ټولولو مسولیت لري؛ خو بل لور ته د ګډون کونکو مصؤنیت، خوندیتوب او محرمیت هغه مهم اخلاقي مسایل دي چې باید پام ورته وکړي.

په مختلط میتود تحقیق کې د نمونې اخیستنه یو مُغلق، هر اړخیز او متحرک عمل دی چې ډېرې تخنیکی پوهې ، تجربې، پلان جوړونې او د موضوعاتو په اړه هراړخیزې پوهې ته اړتیا لري. په دې پېچلي میتود کې څېړونکی باید د ننګونو تر څنګ ځینې فرصتونو ته هم متوجه وي او ښه پاملرنه ورته وکړي. فرصتونه داسې وي لکه د کیفي ډاټا له تحلیل څخه وروسته د کمي تحقیق لپاره د مناسبې موضوع موندل؛ خو که دې فرصتونو ته ښه پاملرنه ونشي؛ نو په دې صورت کې څېړونکی دا فرصت له لاسره ورکوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ